هوالله

# اصولنامهٔ

# (تابعیت)

# درافغانستان


تاریخ طبع : — ۳ دلو ۱۳۱۵

تعداد طبع (۱۵۰۰) جلد

در ریاست عمومی مطابع طبع شد



INSTITUT INTERNATIONAL POUR L'UNIFICATION DU DROIT PRIVÉ
BIBLIOTHÈQUE
- ROME -

INSTITUT INTERNATIONAL POUR L'UNIFICATION DU DROIT PRIVÉ
AS
VII
1
2
ROME

INSTITUT INTERNATIONAL POUR L'UNIFICATION DU DROIT PRIVÉ
BIBLIOTHÈQUE
ROME

بسم الله الرحمن الرحیم

# اصولنامهٔ تابعیت

## (فصل اوّل)

تابعیت اصلیه ، تابعیت اکتسابیه ، حقوق تابعیت

۱ :— عموم افرادیکه درافغانستان اقامت دارند می کنند افغان وتبعهٔ افغان هستند باستثنای کسانیکه مدارک تابعیت آنها مصرح ومصدق است وحکومت افغانستان برمدارک تابعیت آنها اعتراضی ندارد .

۲ :— عموم افرادیکه ازپدر ومادر تبعهٔ افغان در داخل ویاخارج مملکت افغانستان متولدشده اند افغان وتبعهٔ افغان هستند .

۳ :— افرادیکه بصورت لقیط درافغانستان متولدشده اند افغان وتبعهٔ افغان هستند .

۴ :— افرادیکه درافغانستان ازپدر ومادراجنبی تولدشده اند مشروط براینکه یکی ازوالدین آنها درافغانستان متولد ومتوالیاً درافغانستان اقامت نموده باشد افغان وتبعهٔ افغان هستند .

۵ :— افرادیکه درافغانستان ازپدر ویا مادر

# د تابعیت اصولنامه

## (لمړی فصل)

اصلي تابعیت ، اکتسابي تابعیت ، د تابعیت حقوق

هغه ټول خلق چه په افغانستان کښې اوسیږی افغان اوتبعه دافغان دی ، پرته دهغه کسانو چه د تابعیت مدارک یې مصرح اومصدق دی ، اودافغانستان حکومت دهغوی تابعیت پر مدارکو اعتراض نه لري .

هغه ټول کسان چه دافغاني تابعیت لرونکو مور و پلار څخه دافغانستان په مملکت کی دننه یا دباندی زیږیدلی وی افغان اوتبعه دافغان دی .

هغه کسان چه دلقیط په صورت په افغانستان کی زیږیدلی وی افغان اوتبعه دافغان دی .

هغه کسان چه په افغانستان کی داجنبی مور و پلار څخه پیدا سوی وی په دے شرط چه یو د مور و پلار څخه یې په افغانستان کی متولد او پرله پسې یې په افغانستان کی استوګنه کړې وی افغان اوتبعه دافغان دی .

هغه څوک چه په افغانستان کی دمور یا پلار

ویا از والدین تبعهٔ خارجه متولد شده وبسن رشد رسیده وبعد از آن تماماً در افغانستان سکونت اختیار کنند افغان وتبعهٔ افغان هستند .

تبصره

الف :— اولاد سفراء ووزراء سیر مختار وهیئت نمایندگان سیاسی وقونسل های مسلکی وهیئت رسمیه آن از تطبیق احکام اصل ۴ و ۵ مستثنی شمرده میشوند .

ب :— سن رشد قانون تابعیت افغانی هجده سال است .

ج :— افراد اصل ۴ و ۵ میتوانند بعد از رسیدن رشد تمام تا یکسال تابعیت دولت پدر خود را قبول کنند بشرطیکه با درخواست نامهٔ خود تصدیق دولت پدر خود شانرا راجع باینکه آنهارا تبعهٔ خود می شناسد ضمیمه کرده باشند .

۶ :— افراد یکه از ممالک خارجه در مملکت افغانستان آمده ودر مدت اقامت خویش تابعیت اصلیهٔ خود را پوشیده ودر افغانستان با او معامله تبعهٔ افغانی شده ودر خاک افغانستان املاکی که مخصوص افغانها ست خریده ومالک مال مواشی باشند ویا معاملات تجارت وزراعت دارند افغان وتبعهٔ افغان هستند .

۷ :— اتباع خارجه اگر در مدت پنج سال بخدمت حکومت افغانستان در خارج بوده ویا در منافع عامهٔ افغانی مساعدت واعانت لایقه

یا د خارجي تابعیت د والدینو نه موږ پلار څخه زیږیدلي وي او د رشد عمر ته رسیدلي وي او ترد ې وروسته تول په افغانستان کې سکونت غوره کې افغان او تبعه د افغان دی .

تبصره

الف : د سفیرانو، واکدارو وزیرانو او د سیاسي هیئت د نمایندګانو، او د مسلکي قونسلګانو او د دوی د رسمي هیئت اولاد د څلرم او (۵) اصل د احکامو د تطبیق څخه مستثنی شمېرل کیږي .

ب : د افغاني تابعیت د رشد قانوني عمر ۱۸ کال دی .

ج : د (۴ او ۵) اصل افراد کولای شي چې پس د کامل رشد ته رسیدلو تر یوه کال پورې د پلار د دولت تابعیت قبول کې په دې شرط چې د خپلې درخواست نامې سره یې د خپل پلار د دولت تصدیق په دې باب کې چې دوی خپل تبعه ګڼي ضمیمه کړی وي .

هغه خوک چې د خارج مملکتو څخه د افغانستان مملکت ته راغلي وي، او د خپل اقامت په موده کې یې خپل اصلي تابعیت پټه کړې وي او په افغانستان کې د افغاني تبعه سلوک ورسره شوی وي او د افغانستان په خاوره کې هغه املاک چې خاص د افغانانو حق دی اخستي وي او د مال مواشي خاوندان وي ، یا د تجارت او زراعت معاملې لري افغان او تبعه د افغان دی .

خارجه اتباع که یې پنځه کال د افغانستان د حکومت په خدمت کې تیر کړې وي ، یا یې د عامه افغاني منافعو په باب کې لایق مساعدت او اعانت کړې وي

کرده باشند بشرط تقدیم درخواست تابعیت بلا رعایت میعاد اقامت اصل (۹) افغان وتبعهٔ افغان قبول ومحسوب میشوند .

۸ :— اتباع خارجه که شرط مدت اقامت اصل (۹) را پوره نکرده اگر حکومت افغانستان استثناءً اورا بتابعیت افغانی قبول میکند افغان وتبعهٔ افغان محسوب میشود .

۹ :— افرادیکه مدت پنجسال متوالی و یا متناوب در افغانستان اقامت میکنند بشرطیکه بسن رشد تمام رسیده ومرتکب جنحهٔ مهم ویا جنایات نشده باشند درصورت تقدیم درخواست تابعیت افغان وتبعهٔ افغان قبول ومحسوب میشوند .

۱۰ :— افرادیکه تابعیت افغان را تحصیل کرده اند خانم واولادشان نیز تبعهٔ افغان محسوب میشوند ، اگر اولاد صغیر پس از رسیدن بسن رشد تمام در مدت یکسال درخواست تحریری قبول تابعیت سابق پدر خود را بوزارت خارجه تقدیم کنند تبعهٔ افغان شناخته نخواهند شد .

تبصره

تاثیر تابعیت پدر درحق اولاد کبیر او که در تاریخ درخواست نامهٔ پدر بعمر رشد تمام رسیده اثر بخش نیست .

۱۱ :— زن تبعهٔ افغانی که حسب مجوزات شرعی با تبعهٔ خارجه ازدواج کند تبعهٔ افغانی شناخته نمیشود اما عندالفراق قطعی (طلاق) ویا فوت

د تابعیت د درخواست د تقدیم په شرط بې د اقامت د میعاد له رعایت چه په (۹) اصلي کې ذکر دی ، افغان او تبعه د افغان قبول او حسابیږي .

خارجه اتباع چه د (۹) اصل د اقامت د شرط مدې نه وي پوره کړي که چیرې د افغانستان حکومت استثناءً په افغاني تابعیت قبول کې افغان او تبعه د افغان حسابیږي .

هغه کسان چه پنځه کاله پرله پسې یا په واړو واړو په افغانستان کې اقامت کوي په دې شرط چه کامله د رشد عمر ته رسیدلي وي ، او غټه مهمه جنحه یا جنایتونه یې نه وي کړي د تابعیت د درخواست د تقدیم په صورت کې افغان او تبعه د افغان قبول او حسابیږي .

هغه کسان چه د افغان تابعیت یې حاصل کړی دی د هغو ماندینې او اولاد هم افغانان حسابیږي ، که یې صغیر اولاد د کامل سن رشد ته رسیدلو وروسته په یوه کال کې د خپل پلار د پخواني تابعیت د قبلولو تحریري درخواست وزارت خارجه ته وړاندې کې د افغان تبعه نه گڼل کیږي .

تبصره

د پلار د تابعیت تاثیر د کبیر اولاد په حق کې چه د پلار د درخواست نامې په وخت کې د کامل رشد و عمر ته رسیدلي وي فائده نکوي .

افغاني تبعه ښځه چه د شرعي مجوزاتو په مطابق د خارجه تبعه سره واده وکي افغاني تبعه نه شمېرل کیږي ، لیکن د قطعي فراق (طلاق)

شوهر بشرط ارائهٔ سند تصدیق فراق ویا فوت شوهر افغان وتبعهٔ افغان است .

تبصره

زن تبعهٔ افغانی که با تبعهٔ خارجه ازدواج میکند در افغانستان حق استملاک نداشته اموال غیر منقوله خود را بالای تبعهٔ افغانی فروخته وقیمت آنرا اخذ میتواند .

۱۲ :— زن تبعهٔ خارجه که با تبعهٔ افغانی ازدواج میکند افغان وتبعهٔ افغان محسوب میشود اگر زن بیوه ویا مطلقه تبعهٔ خارجه که با تبعهٔ افغان ازدواج میکند از شوهر سابقه اتباع خارجه اولاد داشته باشد افغان وتبعهٔ افغان محسوب میشود . مگر بعد از رسیدن بسن رشد در مدت ششماه استدعای قبول تابعیت دولت پدر را نماید از تابعیت افغان خارج خواهد شد اگر زن بسبب جدائی ویا فوت شوهر افغانی بتابعیت اصلیه عودت میکند بشرط تقدیم درخواست بوزارت خارجه از تابعیت افغانی خارج و اولاد پدر متبوع افغان تا بسن رشد نرسیده افغان وتبعهٔ افغان است ، هرگاه این خانم دارائی غیر منقول در افغانستان دارد ویا بوراثت مستحق شود بالای تبعهٔ افغان فروخته میتواند واگر از تاریخ حکم خروج الی یکسال فروخته نتوانست بتوسط حکومت فروخته پول قیمت آن برایش تادیه خواهد شد .

په وخت کی ، یا د میړه د مړګ روسته په دی شرط چه د میړه د فراق یا د فوت سند تصدیق وښئی افغان او تبعهٔ افغان ده .

تبصره

تبعهٔ افغانی ښځه چه د خارجه تبعه سره ازدواج کوی په افغانستان کی د استملاک حق نه لری خپل غیر منقول مالونه په افغانی تبعه خرڅولای او قیمت یې اخستای سی .

د خارجه تبعه ښځه چه د افغانی تبعه سړی سره نکاح کوی افغانه او تبعهٔ د افغان حسابیږی که چیری د خارج د تبعه کونډه یا طلاقه سوې ښځه د افغان تبعه سره واده وکی او د پخوانی خارجه تابع میړه څخه اولاد ولری افغان او تبعهٔ د افغان شمیرل کیږی مګر وروسته تر رسیدو د رشد و عمر ته د شپږو میاشتو په موده کی د پلار د دولت د تابعیت د قبلولو استدعا وکی د افغان د تابعیت څخه خارجیږی ، که چیری ښځه د جدائی په سبب یا د افغان میړه په فوت سره خپل اصلی تابعیت ته عودت کوی په شرط د دی چه خارجه وزارت ته خپل درخواست وړاندی کی د افغانی تابعیت څخه وزی او د افغان تابع پلار هغه اولاد چه د رشد عمر ته نه وی رسیدلی افغان او د افغان تبعه دی ، او که دغه میرمن په افغانستان کی غیر منقول مال لری ، یا یې میراث سره مستحقه سی ، نو په تبعه د افغان یې خرڅولای سی او که د تللو د حکم د تاریخ څخه یې تر یو دکال له خرڅ نکی نو د حکومت په واسطه خرڅیږی او قیمت یې ورکول کیږی .

## تبصره

احکام اصل (۱۱، ۱۲) اصولنامهٔ هذا راجع بحقوق و دارائی اتباع دولی تطبیق میشود که آنها این حقوق را برای اتباع افغانی داده باشند.

۱۳: — هرگاه از اتباع افغانستان خود و یا پدر شان نظر به بعضی مجبوریت هائی معقول، تبدیل تابعیت کرده باشند و بخواهند که بتابعیت اصلیهٔ خود رجوع کنند عندالوصول درخواست نامه تبابعیت افغانی قبول میشوند.

۱۴: — اشخاصیکه تابعیت افغانستان را استدعا دارند می باید در ورق مخصوص تابعیت مستدعی شده بذریعهٔ سفارت خانه ها، قونسل خانه و مدیریت هائی خارجه و حکام ولایات و یا مستقیماً بوزارت امور خارجه بفرستند مشروط بر اینکه حاوی مفاد ذیل باشد:-

الف: — اسم و شهرت خود و پدر و فامیل.

ب: — اسامی خانم و اولاد و اعضا دیکه تحت کفالت او باشند.

ج: — تفصیل موجبات ترک تابعیت و اقامت قدیم و عزم و ارادهٔ او.

د: — حتی الامکان ارائهٔ اسناد و دلایلیکه مبنی بر هویت و شخصیت او باشد.

هـ: — تفصیل ثروت و شغل معین که برای تأمین معاش او لازم است.

و: — درصورت امکان فوتو لیش و یا تحریری

## تبصره

دد ے اصولنامے (۱۱ - ۱۲) اصل د هغه دولتو داتباعو پر حقوق او دارائی باندی تطبیقیږی چه هغو دا حقونه افغانی اتباعو ته ورکړی وی.

که دافغانستان داتباعو څخه په خپله سړی یا پلار یے دځینی معقولو مجبوریتو په سبب دتابعیت تبدیل کړی وی او وغواړی چه خپل اصلی تابعیت ته رجوع وکی چه د رخواست نامه د تابعیت افغانی یے ورسیږی په افغانی تابعیت قبلیږی.

هغه کسان چه د افغانستان د تابعیت استدعا لري، باید چه د تابعیت په مخصوصه پاڼه مستدعی سی او د سفارت خانو قونسلګریو خارجه مدیرانو د ولایاتو د حاکمانو په واسطه یا دے راسا وزارت خارجه ته را ولیږی په دے شرط چه لاندی مواد په کښی وی :-

الف :- خپل نوم او شهرت او پلار او کورنۍ.

ب :- د ښځو، اولادو، او نورو عائلے نو نومونه چه دده تر کفالت لاندی وی.

ج :- دده پخوانی اقامت او تابعیت د ترک او عزم او ارادے تفصیل او موجبات.

د :- حتی الامکان د هغه دلائلو او اسنادو ښوونه چه دده په هویت او شخصیت مبنی وی.

هـ :- تفصیل د ثروت او شغل معین چه دده د معیشت د تامین دپاره لازم دی.

و :- د امکان په صورت کی فوتو یا تحریری

ماده ششم

ز :— اعتراف نامهٔ یک مصدق و یا یک سند رسمی بر عدم جنایت در مدت تابعیت و یا به.

تبصره

الف :— وزارت خارجه، مدیریت خارجه، حکام مکلف میباشند که لدی الوصول درخواست نامه به شخص مستدعی رسید بدهند در باب بعضی مستدعیانیکه در افغانستان میعاد اقامت احکام اصل (۹) اصولنامهٔ هذا را پوره مینمایند برای پولیس محل بجهت اعطای اجازهٔ اقامت اطلاع بدهند.

ب :— دربارهٔ اقامت تحصیل کنندگان تابعیت احکام اصل (۸) اصولنامهٔ ویژه مرعی گردیده واما حصول اقامت دایمی دریافت نخواهد شد.

۱۵ :— افرادیکه بموجب احکام اصولنامهٔ هذا تابعیت افغانی را تحصیل کرده و یا مینمایند از حقوق تبعهٔ افغانی حق استفاده را دارند ولی بعد از اقامت ده سال در افغانستان و ابراز خدمات فوق العاده که از طرف کابینهٔ دولت تصدیق و از حضور ملوکانه منظور شود بمناصب عالیه شامل شده میتوانند.

شپږمه ماده.

ز :— د یو مصدق اعتراف نامه یا یو رسمي سند ورکول په عدم جنایت د تابعیت په موده کې.

تبصره

الف :— وزارت خارجه، مدیریت خارجه او حاکمان مکلف دي چه د درخواست نامې په رسید وسره درخواست کوونکي ته رسید ورکړي د ځینې هغو خواست کوونکو په باب کې چه په افغانستان کې د دې اصولنامې د (۹) اصل د اقامت د میعاد احکام پوره کوي، و محلي پولیسو ته باید د اقامت د اجازې ورکولو د پاره اطلاع ورکړي.

ب :— هغه څوک چه د (۸) اصل د احکامو په موجب اقامت غواړي د هغو په باب د ویزې اصولنامه مرعي کیږي، لیکن د دائمي اقامت حصول به ورته نه غوښتل کیږي.

هغه څوک چه د دې اصولنامې د احکامو په موجب افغاني تابعیت حاصل کړي یا یې حاصلوي د افغاني تبعه د حقوقو څخه د استفادې حق لري لکن پس د لس کلو په افغانستان کې، او د فوق العاده خدمتو د ابراز څخه چه د دولت کابینې یې تصدیق کړي او شاهانه حضور یې منظور کړي په لوړو منصبو کې شاملیدلای سي.

## (فصل دوم)

### ترک تابعیت — سقوط تابعیت

۱۶:— تبعهٔ افغان تابعیت افغانی را ترک کرده نمی تواند مگر در صورتیکه بسن رشد تمام رسیده و مجلس عالی وزراء خروج تابعیت او را تصویب کرده و او تعهد کرده باشد که در مدت یکسال از تاریخ ترک تابعیت خود اموال غیر منقولی را که دارا میباشد یا بوراثت مستحق میشود بفروشد.

### تبصره

اطفال صغیر و کبیر این شخص افغان و تبعهٔ افغان است از تابعیت افغانی خارج نمیشوند تا مجلس عالی وزراء اجازه نداده باشد.

۱۷:— تبعهٔ افغانی اگر بلا شرایط اصل (۱۶) تابعیت دولت خارج را تحصیل کرده باشد از تابعیت افغانی خارج شناخته نمیشود مگر از همه گونه مشاغل دولتی حکومت افغانی محروم شناخته خواهد شد.

۱۸:— اگر حکومت افغانستان بخواهد ممکن است که عند الایجاب و لزوم قطعی در باب سقوط تابعیت بعضی اشخاص در موارد ذیل احکام صادر فرماید:—

الف:— افرادیکه در خدمات عسکری و ملکی دول خارجه خدمت مینمایند.

## (دوهم فصل)

### د تابعیت ترک، او د تابعیت سقوط

افغانی تبعه افغانی تابعیت نه سی ترکولای مگر به هغه صورت کی چه کامل د رشد عمر ته ورسیږی، او د وزراو عالی مجلس د ده تابعیت ځخه وتل تصویب کی او ده تعهد کړی وی چه د تابعیت د ترک ځخه به د یوکال په موده کی خپل غیر منقول مالونه چه یې لری یا په وراثت یې مستحق سی خرڅ کی.

### (تبصره)

د دغه سړی صغیر و کبیر اطفال افغان او د افغان تبعه دی، د افغانی تابعیت ځخه نه وزی ترڅو چه د وزراؤ عالی مجلس اجازه نه وی ورکړی.

افغانی تبعه وکه پرته د (۱۶) اصل د شرائطو ځخه د خارج دولت تابعیت حاصل کړی وی، د افغانی تابعیت ځخه خارج نه شمېرل کیږی مگر د افغانی حکومت د هر ډول دولتی مشاغلو ځخه به محروم وبلل سی.

کر د افغانستان حکومت وغواړی نو ممکنه ده چه د لزوم قطعی او ایجاب په وخت کی د ځینی اشخاصو د تابعیت د سقوط په باب کی په لاندی موارد وکی احکام صادر کی.

الف:— هغه کسان چه د خارجه دولتو په عسکری او ملکی کارو کی خدمت کوی.

ب :— افرادیکه خدمت اجتماعی
و اشتراک منافع مالی خود را
در افغانستان اجراء نمی نمایند
ج :— افرادیکه در مملکت خارجه اقامت
دارند هرگاه معلوم شود
که با حکومت افغانستان حسن
ارتباط و علاقه و با سفارت
و قونسل خانه های افغانی قصداً
مراوده ندارند .
د :— افرادیکه مرتکب خیانت
ملی شده از مملکت افغانستان
فرار مینمایند .
ه :— افرادیکه ضد منافع عمومی
وخصوصی ملی افغانی نشریات
وپروپاگند مینمایند .
۱۹ :— افرادیکه مستدعی تابعیت افغانی میباشند
اگر پس از تاریخ صدور سند تابعیت
تا مدت پنج سال معلوم شود که در خارج
مرتکب جنحهٔ مهم وجنایات بوده ویا
در مدت اقامت مرور زمان حسب
احکام اصل (۹) مرتکب جنحهٔ
مهم وجنایت شده باشد حکم خروج
تابعیت وی صادر خواهد شد .

(فصل سوم)

ملاحظات اداری

۲۰ :— کلیه امور تصدیق و قبول تابعیت
واجازهٔ خروج و سقوط تابعیت

ب :- هغه کسان چه په افغانستان کی
اجتماعی خدمت او د مالی منافعو اشتراك
نه اجرا کوی .
ج :- هغه کسان چه په خارجه مملکتو کی اوسی
هر کله چه معلوم سی چه د افغانستان
د حکومت سره د ارتباط حسن او د افغانی
سفارتو او قونسلگریو
سره قصداً مراوده
نه لری .
د :- هغه څوك چه ملی خیانت مرتکب
سوی وی او د افغانستان د مملکت
څخه تښتیدلی وی .
ه :- هغه کسان چه د افغان د ملت د عمومی
د خصوصی منافعو پر ضد بانډی نشریات
او پروپاگنډ کوی .
هغه څوك چه د افغانی تابعیت استدعا لری
که د تابعیت د سند د صدور څخه وروسته تر
پنځو کالو پوری معلوم سی چه په خارج کی
د مهمی جنحې یا جنایاتو مرتکب ؤ یا د اقامت
په موده کی پس له زمانو د (۹) اصل د احکامو
په موجب د مهمی جنحې یا جنایت
مرتکب سوی وی د ده د
تابعیت د وتلو حکم به صادر سی .

(دریم فصل)

اداری ملاحظات

ټول کارونه د تابعیت د تصدیق او د قبول
او د خروج او سقوط او د تابعیت اجازه ورکول ؤ

منوط بتصویب و تصمیم مجلس عالی وزراء بیبا شد.

تبصره

در وزارت خارجه وقتاً فوقتاً از هیئت اداری وزارت خارجه کمیسونی تشکیل و از طرف آنها در باب عموم درخواست ها و موجبات و استحصال و ترک و سقوط تابعیت تحقیقات و تطبیقات اصولی بعمل خواهد آمد و بعد برای اتخاذ تصمیم به مجلس عالی وزراء تقدیم خواهد شد.

۲۱: — تمام مراحل اولیهٔ تابعیت قرار تصریح اصل (۲۰) بتوسط وزارت خارجه تکمیل میشود ولیکن برای تطبیق احکامات اصولنامهٔ هذا در داخل مملکت وزارت داخله مکلف است.

۲۲: — احکام مواد راجعهٔ اصول تابعیت که قبل از این اصولنامه مرعی بوده است بعد از نشر اصولنامهٔ هذا ملغی شمرده میشود.

۲۳: — اصولنامهٔ هذا از تاریخ نشر مرعی الاجرست.

ادخال اصولنامهٔ هذا را در جملهٔ اصولنامه های دولت امر و باجرای مواد آن اراده مینمائیم

مورخهٔ ۱۶ عقرب ۱۳۱۵

د عالی مجلس پر تصویب او تصمیم پوری موقوف دی.

تبصره

پر وزارت خارجه کی بروخت پروخت د وزارت خارجه د هیئت اداری څخه کمیسون تشکیل، او د هغو له خوا به د ټولو درخواستو پر موجباتو او د تابعیت د استحصال ترک او سقوط په باب کی اصولی تحقیقات او تطبیقات کیږی، او وروسته به د تصمیم د اخستو د پاره د وزراؤ لوی مجلس ته وړاندی کیږی.

د تابعیت ټول مقدمتی مراحل د (۲۰) اصل د تصریح پر قرار د وزارت خارجه په توسط تکمیلیږی، لیکن د دغې اصولنامې د احکامو د تطبیق د پاره په مملکت کی د ننه وزارت داخله مکلف دی.

د تابعیت د اصولنامې د راجعه موادو احکام چه د مخه تر دغې اصولنامې مرعی وه د دغې اصولنامې د نشر وروسته لغو شمېرل کیږی.

دا اصولنامه د نشر د تاریخ څخه مرعی الاجرا ده.

د دغې اصولنامې داخل د دولت په لوړو اصولنامو کی امر او د دغو موادو په اجرا اراده کوم.

مورخهٔ ۱۶ د لړم ۱۳۱۵